AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدصدیق ننگ

۲۰۲۴/۱۰/۲۹

# غمیزه

**د پاکستان او ایران پر پوله باندې د افغان شهیدانو په وېر کې.**

لالهاند او درمانده یم ګاونډیه
خو سخت کار ته آماده یم ګاونډیه

ما وې څه مسلماني ده وروروليٍ ده
آخ چې زه څومره ساده یم ګاونډیه

مور مدام پخپلو وینو غسل کړی
زه شهید مقتول زاده یم ګاونډیه

(سوختم آب بده) ارمان مې ګور ته یوړ
زه هغه ستي بنده یم ګاونډیه

تا خو ځله یم وژلی په خو رنګه
په سوریه کې دې پیاده یم ګاونډیه

(کله ګان) کې مې کله له تنه پرې شوه
د (سراوان) ستم دیده یم ګاونډیه

د نړی د هر جابر مخې ته سپر یم
په دې کار کې آزموده یم ګاونډیه

ستا ښارونه نن زما پر مټ اباد دي
لا د کار په اراده یم ګاونډیه

بنیادم شه د (سعدي) په لاره سم شه
ننګ په دغه عقیده یم ګاونډیه.

صدیق ننګ ،اکتوبر 2024 م کال



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ